# د کورنۍ اړوند پوښتنې
## د باور جوړولو لپاره د خبرو اترو کارتونه

**موخه:** د دې سرچينې موخه دا ده چې ښوونکو ته د ګڼ ژبو زده‌کوونکو د کورنيو سره د باور جوړولو او ګډو اړيکو د رامنځته کولو لپاره د پوښتنو نظريات ورکړي. دا د پوښتنو يو هر اړخيز لېست نه دی بلکه د نظريو يو لېست دی. دا پوښتنې د WIDA د خبرو اترو کارت له نمونې سره د کارولو لپاره دي.

**لارښوونې:** يو څو پوښتنې انتخاب کړئ چې ستاسو له شرايطو سره سمې وي يا يې خپله جوړې کړئ. تاسو اړتيا نه لرئ چې ټولې پوښتنې وکاروئ. هغه پوښتنې چې تاسو يې غواړئ د خبرو اترو په کارت کې وکاروئ و يې ليکئ او بيا يې د خپلو خبرو اترو لپاره چاپ کړئ. د بېلګې په توګه، د خبرو اترو کارتونه کېدای شي د پرانيستې کور، د کور سره د ليدنې، د ټولنيز سازمان سره د ليدنې، کنفرانس، يا نورو رسمي يا غير رسمي مراسمو يا خبرو اترو په اوږدو کې وکارول شي.

**د زده کوونکو، کورنيو او د ټولنې له غړو سره د کارولو لپاره ملاحظات**

- **د باور اوسنۍ کچه:** د خبرو اترو کارتونو کارولو او شريکولو پرمهال د خپلو اړيکو پياوړتيا په پام کې ونيسئ. د زده کوونکو، کورنيو او د ټولنې غړو سره په لومړيو خبرو اترو کې د پوښتنې او ځواب بڼه جبري کول ښايي په غير ارادي ډول فشار رامنځته کړي، چې له امله يې دوی د ملاتړ پرځای کېدای شي د نارامۍ احساس وکړي.
- **باور په بېلابېلو لارو رامنځته کېږي:** هغه کوچني حرکتونه په پام کې ونيسئ چې څو ژبني زده کوونکي، کورنۍ او د ټولنې غړي يې د ښه راغلاست او ارزښت احساس وکړي. ددوی په کورنيو ژبو کې ساده سترې مشې وکاروئ. که تاسو د انګليسي ژبې زده کوونکی يا کډوال ياست نو خپلې تجربې شريکې کړئ؛ که نه، نو عاجزي وښايئ، د کورنيو ژبو قدر وکړئ او د زده کړې دريځ وښايئ. دا د خواخوږۍ او اړيکو په جوړولو کې مرسته کوي. حتی کوچنۍ هڅې کېدای شي ددې لپاره مهمې وي چې دوی ته په ټولنه کې د خپل ځان ليدلو احساس ورکړي.
- **باور د وخت په تېرېدو سره رامنځته کېږي:** دا وښاياست چې تاسو خلاص زړه او هرکلی کوونکی ياست او د ګڼ ژبو زده‌کوونکو، کورنيو او د ټولنې غړو د ګډون ځای ته درناوی کوئ. دا په دې معنا ده چې د دوی کيسې او اړتياوې واورئ، د دوی نظرونو او نظرياتو ته ځواب ورکړئ، په هغو ځايونو کې اړيکې جوړې کړئ چې دوی يې خوښوي او د همکارۍ فرصتونه وړاندې کړئ. د اړيکو جوړول يوه دوامداره کړنه ده.

wida.wisc.edu

WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin-Madison.

WIDA © 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA

WIDA™ UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON

## د ښوونکو لپاره له کورنیو سره د کارولو اړوند پوښتنې

## د اړیکو د جوړولو پیل

### ستاسو کورنۍ

1. [د ماشوم نوم] _____ کوم ډول کارونه خوښوي چې ترسره یې کړي؟ تاسو د کورنۍ په توګه څه کول خوښوئ؟
2. ستاسو لپاره کوم کورني یا کلتوري ارزښتونه مهم دي؟ آیا تاسو کولی شئ د دې کیسه یا بېلګه را سره شریکه کړئ؟
3. تاسو کومې تجربې لرئ چې موږ باید پرې پوه شو ترڅو ستاسو د کورنۍ ښه ملاتړ وکړو؟
4. نور څه شته چې تاسو غواړئ موږ یې د _____ [د ماشوم نوم] او ستاسو د کورنۍ په اړه پوه شو؟

### د ښوونځي اړیکې

5. تاسو زموږ له ښوونځي څخه د څه شي تمه لرئ؟ زموږ د ښوونځي په اړه په څه شي پوهېدل غواړئ؟
6. آیا تاسو کولی شئ زموږ په ښوونځي کې د یو چا بېلګه راسره شریکه کړئ چې تاسو په رښتیا هم پرې باور لرئ او ولې؟
7. [د ماشوم نوم] _____ څه هیله لري چې سږ کال به څه شی زده کړي؟ د _____ [د ماشوم نوم] لپاره ستاسو موخې کومې دي؟ د [د ماشوم نوم] _____ د زده کړې اړوند موخې څه شی دي؟
   a. [د ماشوم نوم] _____ په کومه برخه کې تکړه دی؟ تاسو څه فکر کوئ چې _____ [د ماشوم نوم] نور په څه شي باندې کار کولو ته اړتیا لري؟
   b. زموږ لپاره د ژبې په پرمختګ او زده کړه کې له _____ [د ماشوم نوم] څخه د ملاتړ غوره لاره څه شی ده؟ له ټولنیز-عاطفي پرمختګ سره؟
8. موږ څه کولی شو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو او _____ [د ماشوم نوم] زموږ په ښوونځي/ټولګي کې د ښه راغلاست احساس وکړئ؟
9. موږ څه مرسته کولی شو ترڅو _____ [د ماشوم نوم] په ښوونځي کې پرمختګ وکړي؟

### ټولنېزې اړیکې

10. آیا ستاسو په ټولنه یا سازمان کې داسې څوک شته چې تاسو پرې په رښتیا هم باور لرئ او له تاسو سره یې مرسته کړې وي؟ آیا تاسو کولی شئ د باور د پراختیا یوه بېلګه راسره شریکه کړئ؟
11. تاسو اوسمهال د ټولنې کومې سرچینې کاروئ چې له نورو کورنیو سره د شریکولو لپاره ګټورې وي؟
12. کومه ټولنه یا نورې سرچینې به ستاسو لپاره ګټورې وي؟

## د اړیکې د جوړولو دوام

### ستاسو کورنۍ

1. په ټوله کې، څنګه ستاسو _____ [د ماشوم نوم] علاقه مندۍ د وروستي ځل لپاره زموږ له خبرو راهیسې بدلې شوې دي؟
2. وروستی ځل چې موږ سره خبرې وکړې، تاسو وویل چې _____ دغه حالت څنګه بدل شو، که لا هم دا حالت همداسې پاتې دی؟

### د ښوونځي اړیکې

3. هرڅه څنګه روان دي؟_____ ؟ (د ښوونځي یوه ځانګړې اړیکه راسره شریکه کړئ چې تاسو ورسره په تېرو وختونو کې خبرې اترې کړې دي.) زه د ملاتړ لپاره څه کولی شم؟
4. ستاسو د _____ [د ماشوم نوم] لپاره د زده کړې، ژبې، او/یا کلتوري موخې څنګه دي او د وروستي ځل لپاره زموږ له خبرو راهیسې بدلې شوې دي، او که نه؟
5. تر اوسه پورې زموږ په همکارۍ کې کوم مورد ښه کار ورکړی دی؟ آیا تاسو یو بېلګه راسره شریکولی شئ؟
   a. موږ څه په متفاوت ډول کولی شو چې ستاسو خبرې واورېدل شي / د ښه راغلاست احساس وکړئ؟
   b. زه ستاسو پوښتنو ته څنګه ځواب درکوم یا ستاسو اړتیاوې څنګه پوره کوم؟
   c. څرنګه کولی شو خپلې اړیکې نورې هم همکارۍ ته ورسوو؟
6. آیا تاسو فکر کوئ چې اړوند ښوونځی ستاسو تمې پوره کوي؟ موږ یې کومه برخه لا نوره ښه کولی شو؟
   a. د ښوونځي او ګڼ ژبو د کورنیو ترمنځ د باور او درناوي کلتور د جوړولو لپاره تاسو کوم بدلونونه لیدل غواړئ؟



WIDA © 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA